AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نجیب‌الله پاخون

۲۰۲۶/۰۳/۱۷

# د پاکستان پوځي رژیم بزدلانه تیری؛

## څوک د افغان وینو مسؤل دي؟




افغانستان یو ځل بیا د یوې سترې ملي غمیزې شاهد شو؛ داسې غمیزه چې د هر انسان وجدان لړزوي، د پاکستاني پوځ له لوري د ملکي وګړو پر یوه روغتون برید نه یوازې د انسانیت پر وړاندې یو وحشیانه جنایت دی، بلکې د نړیوالو بشري قوانینو ښکاره او نهېښونکې سرغړونه ده، دا پېښه د افغان ولس پر زخمونو تازه مالګه شیندي او د یوې لویې انساني تراژیدۍ انځور وړاندې کوي؛ خو تر ټولو مهمه پوښتنه دا ده:

ولې پاکستاني رژیم نن د افغانستان پر خاوره داسې بریدونه او تېری کوي؟

ولې هغه هېواد چې تر پرونه یې له افغانستان څخه وېره درلوده، اوس په ډاډه زړه هوايي بریدونه کوي؟
لاندې د دې موضوع مهم څو اړخونه راخلو:

### ۱ ـ د افغانستان د نظامي ځواک کمزوري کېدل:

افغانستان یو وخت نسبتاً منظم او پیاوړی پوځ درلود؛ خو د کورنیو جګړو، سیاسي بېثباتۍ او د اشرارو له لوري د پوځي تجهیزاتو له منځه وړلو، کباړېدو یا خرڅېدو له امله دا ځواک کمزوری شو.
کله چې د دفاع بنسټونه کمزوري شي، بهرني ځواکونه د فشار او تېري جرئت پیدا کوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## ۲ ـ د نړیوال مشروعیت نشتوالی:

د هر دولت نړیوال رسمیت او ډیپلوماتیک حضور د هغه د دفاع او سیاسي فشار یوه مهمه وسیله ده.
کله چې یو حکومت نړیوال مشروعیت ونه لري، د نړیوالو بنستونو له لوري پرې فشار هم محدود وي، دا وضعیت د پاکستان په خبر هېوادونو ته دا جرئت ورکوي، چې بنايي له جدي نړیوال غبرګون سره مخ نه شي.

## ۳ ـ کمزورې ډیپلوماسي:

اوسنی نړۍ یوازې د وسلو پر زور نه چلېږي؛ بلکې قوي ډیپلوماسي، نړیوال اتحادونه او سیاسي نفوذ هم مهم رول لري.
افغانستان له ډېرو نړیوالو سیاسي فورمونو څخه نسبتاً لیرې پاتې دی، او همدې حالت د هېواد غږ په نړیواله کچه کمزورې کړی دی.

## ۴ ـ د افغانستان د اوسني مشرتابه مسؤلیت:

په داسې حساسو شېبو کې مشرتابه لاندې مسؤلیتونه لري:
د پاکستان پر وړاندې روښانه او قاطع سیاسي دریځ خپلول؛ نړیوالو سازمانونو ته رسمي شکایت وړاندې کول، لکه ملګرو ملتونو ته. د ملي یووالي پیاوړتیا، د دفاعي توان عصري کول او پیاوړتیا او د یوې لویې جرګې رابلول.
ملي یووالی او قوي بنستونه د هر هېواد د امنیت اساسي شرط دی.

## ۵ ـ د بشریت ضد جنایت او دولتي ترهګري:

د ملکي وګړو، روغتونونو او ناروغانو وژل د نړیوال بشري قانون له مخې ښکاره جنګي جرم دی، که دا ډول بریدونه د دولتي بنسټ له لوري ترسره شي؛ نو دا د دولتي ترهګرۍ په توګه تعبیرېږي.
د پاکستاني رژیم دا پېښې باید مستندې شي او نړیوالو حقوقي میکانیزمونو ته وسپارل شي، څو مسؤلین حساب ورکړي.

## ۶ ـ ولې تر ډېره نړۍ دا بریدونه نه غندي؟

په نړیوال سیاست کې ډېر وخت سیاسي او ستراتیژیکې ګټې لومړیتوب لري.
هغه هېوادونه چې قوي ډیپلوماتیک حضور لري، خپل غږ په ښه ډول نړۍ ته رسوي، افغانستان باید خپل نړیوال حضور پیاوړی کړي څو د ظلم او تېري پر وړاندې یې غږ اورېدل شي.

## ۷ ـ هغه افغان ځېرې چې د پاکستان ملاتړ ته سترګې په لار دي:

هغه پلورل شوې ځېرې چې د ولس له ملاتړ پرته د بهرنیو قوتونو او د پاکستان په مرسته واک ته د رسېدو خوبونهویني، دا ډول سیاستونه نه یوازې د هېواد د خپلواکۍ لپاره زیانمن دي، بلکې د بهرنیو مداخلو لپاره هم زمینه برابروي
دا ډول ځېرې باید ورټل شي.

## ۸ ـ ځګړې یوازې په شعارونو نه ګټل کېږي:

ننۍ ځګړې د لاندې عواملو پر بنسټ ګټل کېږي: پرمختللې ټکنالوژي، دقیق استخباراتي معلومات، اقتصادي ځواک، قوي نړیوال اتحادونه، د ولس ملاتړ.
که دا عناصر موجود نه وي، هېواد له بهرنیو فشارونو سره مخ کېږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

### ۹ ـ د پاکستان د بریدونو احتمالي ستراتیژیکي موخي:

پاکستان تل هڅه کړې چي افغانستان شاته پاتې، بېوزله، محتاج او له سیاسي، اقتصادي او امنیتي اړخه کمزورى وساتي، څو د نفوذ او فشار وسیله یې په لاس کي وي.
ډېرى شنونکي باور لري چي د پاکستاني رژیم وروستي هوايي بریدونه یوازې د یوې وسلهوالي ډلي پر ضد اقدام نه دى، د دوى په اند دا ډول بریدونه د سیمي د ځواک د توازن د ساتلو او د ستراتیژیک نفوذ د دوام لپاره ترسره کېږي، د همدې لید له مخي، د افغانستان بېثباتي د پاکستان د ځینو امنیتي کړیو لپاره د فشار او نفوذ وسیله ګرځېدلې ده او وسله والي ډلي یې هسي پلمه ده.

### وروستی پایله:

پر افغان خاوره هر ډول برید د هېواد پر حاکمیت ښکاره تېرى دى، دا ډول کړني نه یوازې د نړیوالو قوانینو سرغړونه ده، بلکي د سیمي د سولي او ثبات لپاره هم ګواښ ګڼل کېږي.

### افغانستان باید له تېرو تجربو درس واخلي:

ملي یووالى، قوي دولت، عصري دفاعي سیستم، فعال نړیوال حضور او د ولس ملاتړ هغه بنسټونه دي چي یو هېواد له داسي پېښو ژغوري.
که ملت متحد وي او خپل ملي بنسټونه پیاوړي کړي، هېڅ بهرنی ځواک او په تېره بیا پاکستانی رژیم به د دې جرئت ونه کړي چي د افغان خاورې سپکاوی وکړي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ